**د واکسينو د معلوماتو بيانيه**

# د RSV (تنفسي سنسيشيال ويروس) واکسين: هغه څه چې تاسو يې په اړه بايد پوه شئ

Many Vaccine Information Statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسين معلوماتو ډېري بيانيې په پښتو او نورو ژبو موجود دي. وګورئ www.immunize.org/vis

## 1. ولې بايد واکسين وکړو؟

**د RSV واکسين** کولی شي د **تنفسي سنسيشيال ويروس** (**Respiratory Syncytial Virus, RSV**) له امله پيدا کيدونکي د لاندينۍ تنفسي مجرا ناروغۍ مخه ونيسي. RSV يو عام تنفسي ويروس دی چې عموماً د خفيف، زکام ډوله علايمو لامل کيږي.

RSV د هر عمر خلکو کې د ناروغۍ لامل کيږي خو د تنکيو ماشومانو او د ډېر عمر لويانو لپاره په ځانګړي توګه جدي کېدلی شي.

تر 12 مياشتو پورې عمر لرونکي تنکي ماشومان (په ځانګړي توګه 6 مياشتني او کم عمر لرونکي) او هغه ماشومان چې بې مودې زيږيدلي، يا هغوی چې د سږو يا زړه مزمن ناروغي يا د معافيت ضعيف سيستم لري، هغوی د RSV شديد ناروغۍ خطر سره مخ دي.

د RSV شديد ناروغۍ خطر سره مخ لويانو کې د ډېر عمر لرونکي خلک، د مزمن طبي ناروغيو لکه د زړه يا سږو ناروغيو لرونکي، د معافيت ضعيف سيستمونو لرونکي، يا ځينې نورو طبي ناروغيو لرونکي شامل دي، يا هغوی چې د رنځورپالنې کورونو يا د اوږدمهاله پاملرنې تاسيساتو کې اوسيږي.

RSV د ويروس سره د مستقيمې اړيکې له لارې خپريږي، لکه د بل فرد د ټوخې يا پرنجې ځاځکي ستاسې سترګو، پزې يا خولې سره په تماس کې شي. دا د داسې سطحو لمس کولو له لارې هم تيريدی شي چې ويروس وربانديې موجود وي، لکه د دروازې لاستی، او بيا د خپلو لاسونو مينځلو څخه مخکې که تاسې خپل مخ لمس کړئ.

د RSV عفونيت علايمو کې د پزې بهيدل، په اشتها کې کموالی، ټوخی، پرنجی، تبه يا د سينې خرار شامل کېدلی شي. په خورا کوچنيو ماشومانو کې د RSV علايمو کې ناکراري (بدخويي)، د فعاليت کميدل، يا آپنه (ساه اخيستلو کې د 10 ثانيو څخه ډېر ځنډ) شامل کيدی شي.

ډېری خلک په يوه يا دوه اونيو کې ښه کيږي، خو RSV شديد کېدلی شي، چې په پايله کې د د ساه لنډې او د اکسيجن د سطحې د ټيټوالي سبب کيږي. RSV د برانشيوليټيز (د سږو د هوا د کوچنيو لارو پړسوب) او د سينه بغل (د سږو عفونيت) لامل کيدی شي. ځينې وختونه RSV د نورو روغتيايي ستونزو د لا خرابيدو لامل کېدلی شي لکه استما يا ساه لنډې، د سږو د بندښت مزمنه ناروغي (د سږو يوه مزمن ناروغي ده چې له امله يې د ساه اخيستل سختيږي)، يا د زړه تراکمي پاتې راتلل (کله چې زړه نه شي کولی بدن ته کافي وينه او آکسيجن ورسوي).

د ډېر عمر لويان او تنکي ماشومان چې د RSV څخه ډېر ناروغيږي ښايي په روغتون کې بستر کيدو ته اړتيا ولري. ځينې يې حتی مړه کيږي.

## 2. د RSV واکسين

CDC سپارښتنه کوي چې **60 کلن او له دې ډېر عمر لرونکي لويان** د ناروغ او د روغتيا پال ترمنځ د غريدو پربنسټ د RSV واکسين د يوه دوز کولو انتخاب لري.

د RSV پروړاندې د کوچنيو ماشومانو د محافظت لپاره دوه انتخابونه شتون لري: د بلاربې ښځې لپاره د مور واکسين او ماشوم ته ورکول کيدونکي وقايوي انټي باډيز. د ډېری کوچنيو ماشومانو د محافظت لپاره لدغو انتخابونو څخه يوازې يوه ته اړتيا ده. CDC د 6 مياشتو څخه کم عمر لرونکي تنکيو ماشومانو کې د RSV ناروغۍ د مخنيوي لپاره **بلاربو ښځو ته د حمل 32 څخه تر 36 اونۍ پورې** د RSV واکسين د يوه دوز سپارښتنه کوي. دا واکسين د امريکا متحده اياالاتو ډېری برخو کې د سپتمبر څخه تر جنورۍ پورې موده کې سپارښتنه کيږي. په هرصورت، په ځينې موقعيتونو کې (د واک لاندې سيمې، هوايی، الاسکا، او د فلوريډا ځينې برخې)، د واکسين وخت توپير کولی شي ځکه چې پدې موقعيتونو کې د RSV د خپريدو وخت د امريکا متحده اياالاتو نورو برخو کې د RSV د خپريدو موسم سره توپير کولی شي.

د RSV واکسين ښايي د نورو واکسينونو سره په ورته وخت کې ورکړل شي.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

## 3. له خپل روغتیاپال سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چېرې واکسین کېدونکی شخص:

- د **RSV واکسین د مخکیني دوز وروسته حساسیت درلودلی وي**، یا کوم **سخت، د ژوند ګواښونکي حساسیت ولري**

په ځینو مواردو کې، ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی ښایي پریکړه وکړي چې د RSV واکسین تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک هم کولی شي واکسین ترسره کړي. هغه کسان چې په منځنۍ ډول یا سخت ناروغه وي زیاتره د RSV د واکسینو له ترلاسه کولو مخکې تر رغیدو پورې انتظار باسي.

ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

## 4. د واکسین پر وړاندې د غبرګون خطرونه

- د واکسین د تزریق په ځای کې درد، سوروالی، او پړسوب، ستړیا (د ستړیا احساس کول)، تبه، سر درد، زړه بدی، نس ناستی، او د عضلاتو او جوړونو درد د RSV واکسین وروسته پېښېدلی شي.

شدیدې عصبي ستونزې، د ګیلین باری سندروم (Guillain-Barré Syndrome, GBS) په ګډون، په کلینیکي ازموینو کې د RSV واکسین وروسته په لویانو کې راپور شوي دي. دا خبره واضح نده چې آیا د دغه پیښو لامل واکسین و.

د کلینیکي ازمېښتونو پرمهال د هغه بلاربو ښځو ترمینځ چې د RSV واکسین یې کړي د پرې – ایکلامپسیا پشمول د بې مودې زیږون او د حمل په جریان کې د وینې لوړ فشار پیښو راپور ورکړل شوی دی. دا خبره واضح نده چې آیا واکسین د دغه پیښو لامل و.

خلک ځینې وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي کړنلارو وروسته بې هوښه کیږي. که په تاسو سرګرځیږي، یا مو په لیدو کې بدلون راغلی وي یا مو په غوږ کې زنګاري وي، په اړه یې خپل روغتیاپال ته وواياست.

لکه د نورو درملو په څېر، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

## 5. څه به کیږي که چیرې کومه جدي ستونزه شتون ولري؟

یو حساسیتي غبرګون کېدای شي هغه مهال رامنځته شي چې کله واکسین شوی کس له کلینیک څخه ووځي. که تاسو د جدي غبرګون نښې لکه (ټپونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفسي ستونزې، د زړه چټک ضربان، ستړیا، یا کمزوري) ولیدلې نو، **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړونده شخص تر ټولو نږدې روغتون ته انتقال کړئ.

د نورو هغو علایمو لپاره چې تاسو یې په اړه اندیښنه لرئ، خپل د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ.

د منفي غبرګونونو په اړه باید د Vaccine Adverse Event Reporting System د (واکسینو ضرري پېښو د راپور سیستم) (VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو روغتیاپال زیاتره دا ډول راپورونه ثبتوي، یا تاسو خپله باید دا کار وکړئ. له VAERS وېب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ [www.vaers.hhs.gov](http://www.vaers.hhs.gov) یا دې شمیرې ته زنګ ووهئ **1-800-822-7967**. *VAERS یواځې د غبرګون په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیايي مشورې نه ورکوي.*

## 6. څرنګه کولی شم نور معلومات لاسته راوړم؟

- له خپل روغتیاپال څخه پوښتنې وکړئ.
- خپلې ځایي یا ایالتي روغتیايي څانګې ته زنګ ووهئ.
- د واکسینو د کڅوړې او په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره د خوړو او درملو اداري (Food and Drug Administration, FDA) اړوند دې ویب پاڼې ته ورشئ [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](http://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines).
- ناروغیو د کنترول او مخنیوي مرکز (Centers for Disease Control and Prevention, CDC) سره په اړیکه کې شئ:
  - **1-800-232-4636** (**1-800-CDC-INFO**) ته زنګ ووهئ یا
  - د CDC وېب سایټ ته په دې پته ورشئ [www.cdc.gov/vaccines](http://www.cdc.gov/vaccines).

د طبي پاملرن ه )نې( چمتو کونکو ته د واکسین کولو دقیق وضعیت معلوماتو، د واکسی ن کولو ارزونه، او د راتلونکې وخت واکسین کولو لپاره و ړاندیز شوی مهالویش اجازه ورکولو لپاره، Michigan ) معلومات به د میشګان پاملرن ې ښه والي ثبتونې Care Improvement Registry ( ته واستول شي. اشخاص د دې غوښتن ه کولو حق لري چې د دوی د طبي پاملرنې چمتو کونکي ثبتونې ته د واکسی ن کولو معلومات ونه لیږ ي

Pashto translation provided by Immunize.org

MDHHS-PUB-1738PA AUTH: P. H. S., Act 42, Sect. 2126.